**ليکونکی: هيلن کالد يکوت «Helen Cadicott» .**

**منبع اوخپريدو نيټه: انفارميشن کليرنګ هوز «2020-08-06»**

**ژباړونکی: پوهندوی دوکتور سيدحسا م«مل» .**

---------------------------[83]---------------------------------------------

# هغه درسونه چي مو ندي زده کړي

## The Lessons we haven't learned

**په جاپان کي د متحده ايالاتو داتومی بمباريو پنځه اويايم کال وروسته ،بياهم مونږ دبی ساری ناورين په اورکي پاتي يو**

***seventy five years after the US atomic bombings of Japan ,we remain perched on the precipice of unparalleled catastrophe***

*د اګست اومه نيټه ځما کليزه يا ځما دزيږد دورځی دکليزی سره سمون خوری کوم چي دهيرو شيميا اودناګاساکی د بمی چاودونو دکليزی نيټی [ په ترتيب سره داګست (6) اود اګست په (9) کا ل (1945) ] په مينځ کی سره سا ندويچ يا پرس کيږي ؟*

*د سپټا مبرميا شت په دوهمه، کا ل (1945) کي ، کله چي په يو ناڅاپی توګه سره دهغی سيمی داورلګيد نی دزنګ غږراپورته شو ، نوځما ښونکی وپوښتل چی دا څه شي دي؟ اما زه پوهيدم چي جنګ پای ته رسيد لي .*



*دا موضع هغه دم داسترليا په **ميلبورن** کي يو رينتينی بوړنونکی يا ډارونکی وخت وه*

اوداځکه چي **جاپا نیا نو** ګواښ کړي وه چي پرمونږ یرغل وکړي ،زمونږ پلار په هوایي پناهګاه کي مونږ ته یوه پناهګاه یا خوندي ځای وکندل یا جوړ کړ ، داهغه مهال وه چي د ښار ځراغونه د شپی له خوا سکن (عکس نیونی) کیدل، اود کورونو د کړکی ښیښی په تور رنګ سره پوښل یا رنګول .

زه په بیغمی او خوش خوشحا لی سره په هغه زړه پوری ماسپیښین کی خپل کور خواته روان اوم اودلاری په اوږدو کی می پرګلانو باندی لاس را کشاوه ، دا به کلونه وروسته وي مخکی له دي چي زه دجګړي په پاي کي دهغه په اړه کرغیړن حقیقت وموم .

هغه څه چي (75) کا له د مخه د جا پا ن دوه ښا رونو با ندي له آسما نه وورید ، مقصد دهغه ښارونوله مینځه تلل اودخا وری سره خا وری کول وه اودغه دوه ښا رونه داسي له مینځه تللی وه چي نه مخکي اونه هم وروسته داسی خرابی چا لید لی وه ، یعنی هغه خلک چي داتوم داوردګلولی دچا ودید وپه نیم ما یل معرض کی قرار لرل نودهمدی ا تومی ضربی له امله دهغو د عضویت داخلی غړی جوشید له او د یوی سا نیی په یوه برخه کی هغوی داسی ا یره کیده لکه چی د سګرتو د څښا ک ایری یوپر بل با ندي را ولویږی یا کوټ «ا نبا شت» شي.او همدارنګه دهیروشیما د ښا ر په سرکونو ، پلي لاری او پلونوکي په زرها وشمیر تور بخن ایرنی توټی یا بنډ لونه تر سترګو کیدل . یوه ړوند هلک کله چی هغه خپل لاس یو کوچنی سوربخن سنجاق ته ویوړ نودشنه آسمان په مقابل کي له سترګو پناه اوپه ګاز باندی واغوښته اوخپل سیور یی دپیاده رو ترشا پریښود کوم چی هغه د نه هیریدونکي یادګار په بڼه دهیروشیمیا موزیم ته منتقل شو ، یوه ښځه چي خپل نوی زیږیدلی ماشوم سا تله اوهغه د مونډی وهلو په حا ل کی وه نو دهغه نوزاد دتوروسکاره دډبر په مجسمه با ندی بد له شو.

ټوله کې ، نږدې دوه زره کسا ن سمدلاسه ددوه بمونو په واسطه وژل شوي ،او لسګونه زره نور وروسته ددی بمونو د تشعشا تو له امله مړه شوي.. .

په کا ل (1957) کی کله چي زه اتلس کلن اوم ، نو ما د یوانګلیسی ناول لیکونکی **نوبل شوت** ( Nevil Shute ) نا ول چی هغه د خپل ناول اخری برخه په استرلیا کی پای ته رسولی وه بیا نوی ،چي څنګه د میلیون ښار داتومی جګړي څخه د وژونکی وړانګي دخپریدو په معرض کی قرار لرل اوسترګي په لاره وه کوم چي په شما لي نیم کره کي د یو اتومی پیښی له امله رامینځته شوی وه او هرڅه یی ووژل، د میلیون په یو نایټ کلپ کی ناستو نارینوو خپل جنونه (دجن شراب) او تونیکونه(قوی نوشا بی) څښل پداسي حال کي چي حکومتی مقا ما ت وا لد ینو ته **د سیا نا ید** (Cyanid) کپسوله ویشل چی خپل ماشومانو ته ورکړی چي زرمړشی ترڅوچي داتوم دوړانګي د تشوشا تو له جا نبی عوارضو څخه محنیوی وشي.

په دغه وخت کی زه دطب په پوهنځی کی محصل اوم ، چیری چي زه دوړانګو بیولوژی

په اړه پوه شم ، کوم چي **هرمن جی ملیر**(Hermann J. Muller) خپل کلاسیک تجربی د میوو د مچا نو دمورفولوژی دتغیراتو په اړین ترسره کول نو په همدی وخت کي متحده ایالات اوشوروی اتحا د په اتموسفیر کي اتومي وسلي ازمويلي کوم چي درادیو اکتیو یا یلو سره یی لوی نفوس بمبارد کړل .

دا ځما خپله ساده لوحي وه چي نه پوهیدم چي سړی په دی مورد باندي څه فکر وکړي اوداځکه چي داموضوع په علمی او سا ینسی حلقوکی دا یونا یز شوی تشعشاتو پر **میتو جنیک** ( Mutagenic تغیر یا بدلون او**کارسینوجینک**( carcinogenic =سرطانی) اغیزی باندی علمی بحثونه ترسره شوی وه **مادام کیوری**(Madame Curire) دثا نوی رادیوم داپلاستیک کمخونی له امله مړ شوی وه ، **الفا ایمیتیر**(Alpha Emitter) دهغه هډوکي ملوث کړی وه اودهغه لور دوینی دسرطا ن له امله مړه شو او لمړنیو ډیری رادیولوجستا نو کوم چي خپل ځا نونه په تصادفي ډول سره د (X) دوړانګی په معرض کی قرارورکړی وه دهغه وړانګي دخبا ثت له اغیزی څخه خپل ژوند دلاسه ورکړل.

***آنشټین ولیکل:« د اتوم په راخلاصه کړشوی ځواک کي زمونږد تفکرپه صرفه جویی کي دهرشي د تغیرموجب کیږي ، نو په دی بنډه مونږ د بی سا ری نا ورین په طرف په حرکت کی یوو»رابرت اوپن هایمیر***(Robert Oppenheimer) دنړي دلمړي اتومی چا ود نی له ننداری څخه کوم چي په کا ل (1945) کی په ***الا موګوګورد و*** (Alamogordo) ***نیو مکسیکو*** (New Mexico) کي ارسره شوي وه پخپل لوړ آواز سره وویل: ***زه مړ یم*** ، د نړی ویجا ړونکي ، دهندوانو له مذهبی (اثارو) ***پهاګواد ګیتا*** (Bhagavad Gita) یا ***دخدای له سرود*** څخه .

***ساینس پوها ن پوهیدل چي دوی د ا نسا ن تباهي تخمونه موند لي دي.***

---

***نو ، د انسا ن نسل له مینځه وړلو لپاره د دې نوي وړتیا په بشپړ پوها وي کې ، نړی بیا وروسته څه وکړل؟***

متحده ایالاتو او شوروي اتحاد پریکړه وکړه چې د اتومي وسلو سیا لی په لاره اچولو سره یو بل ته زیان ورسوي ، په لسګونو زره ا تومي وسلې رامینځته کړې. د( 1945) او( 1998) ترمینځ ، متحده ایالاتو تر زرو ډیر اتومي ازمويني ترسره کړې ، چې په لسګونوزره خلکو کې یې سرطان پیدا کړ. اوله ( 70000) ډیر اتومي او هایدروجنی بمونه جوړکړي دي .شورویا نو او وروسته دروسیې فدراسیون هڅه کړې وه، لړترلږه (55000) بمون یې چي پخپله جوړ کړي. هغه وسا تی.

دوسلو کنټرول تړونونو په تیرو څو کلونو کې د نهو هیوادونو په نیولو کې نن شاوخوا ( 14،000) اتومي وسلو زیرمو کمولو ته لاره هواره کړې: متحده ایالات ، روسیه ، انګلستان ، فرانسه ، چین ، هند ، پاکستا ن ، اسرایل او شما لي کوریا. متحده ایالات او روسیه لا هم د دې کځوره رهبري کوي ، چې هر یو یې د( 6،000 ) څخه ډیرې وسلې سره ، په شمول د( 1،600 ) په شاوخوا کې چې سره په فعاله توګه فعالیت لري.

متحده ایالات اړتیا لري چې خپل بشپړ اخلاقی اومعنوی لوړوالی ته ورسیږي او نړئ دهوسا ینی اوبقا لپاره رهبری وکړي .

په هرصورت ، د دوی دوه هسته ا یی زبرځواکو ( متحده ایالات او شوروی اتحاد) ترمینځ دهسته ای نښتی مبا د لي لپا ره چی یوبل ته ورسیږی یوساعت وخت په برکی نیسي ، یو **شل میګا ټون بمب** (د « 20» میلیون ټنه «TNT» سره مسا وی) چیری که وغورځول شي داسی یو ژوروالی په ځمکه کی را کیندی چی دهغه اوږدوالی څلور کیلومتره او ژوروالي یی (800) فوټه به وي ، کوم چې ټول ودانی او خلک به دهغه بمی چا ودنی د سما رقی ډول لوګي کی به دراد یو اکتیب سره به مسموم شي اودهغه سیمی څخه څلور خوا د شپږ مایل په واټن سره هر شي به تبخیر شي اود ښا ر له مرکز څخه شل ما یل لیري اورلګید نی به فوران وکړي اودا ځکه چي بادونه په سرعت د (500) مایل په یوساعت کی الوزی ، اورلګید نی یودبل سره یوځای کیږي خلک له کورونه را باسی اوپه مزایلو یی بد لوی ، اود متحده ایالات زیا تی برخه به اورواخلی اوددی موجب به وشی چی دهغه هیواد ټول اتومی تا سیسا ت به دړی وړی اوذوب به شي او راد یو اکتیب به په شد ت سره هرخوا خپور شي .

د بلی خوا په باالقوی بڼی سره په ملیاردونو خلک د دی هسته ای چاودنی د را مینځته شو تشعشا تو په ککړ کید و سره په حاد توګه کا نګی ، خونریزی پیداکوی او کله هم په پټها نې ډول دهغو ککړو خلکو د ژوند دختمید و موجب ګرځي . هغه وخت چی ددی هسته ایی چا ودنی له امله د **رادیو اکتیو** پنډ لوګي **استراتو سفر** (Stratosphere) ته داخل شی او هغه وپوښوی نو ځمکه د وخت په تیریدو سره په بل کنګل(یخ) شوی عمر کی ډوبیږي یعنی یو «اتومی ژمي » چي تقریباً ټول ژوندي موجودات له مینځه وړی . داتومی عصر یا دهسته ای لمر له راختو څخه (75) کا له وروسته مونږ دټل په څیر چمتو یو چي خپل ځان ځُپ وسا تو . نو په دی بڼه دبشر نژاد په روښانه بڼی سره د خود کشی په ما موریت کي یو تکا ملی عا مل شمیرل کیږي اود بلی خوا څخه زمونږ سیا ري د ګړندی پاملرنی په واحد درشل کي قرار لري او نها یی پیښو یا دحواد ثو درامینځته کیدو ته نژدی لیدل کیږي .

ایا له ډیروپخوا وختوڅخه کوم چي په تدریجي بڼی سره د ملینونو کلونو په اوږدو کی چي کاربن زیرمه شوی او اوس دغه انبار شوی کاربن سره دهغه کوم چي کاربن زمونږ له موټرو اوله صنا یعو څخه آزادیږی دا پخپله په دی مفهوم نه دی ؟ چي مونږ په بی

پروايي سره دغه سياره پخپل لاس سوځوو اويا داچي دا سياره له مينځه وړو يا داچي د ګا زی اجا ق په جوړولو سره غواړو دغه ځمکه پای ته ورسوو.

په دی تازه وختونو کی دبين المللی انرژی آژانس ويلی : مونږ يواځی شپږ مياشتی فرصت لرو چي که وغواړو دځمکي دګرمي يا دګرميدو مخه ونيسو ، مخکي له دي چي ډير ځنډ شي . ددی کال په لمړيو کي داتومی بولتن کارپوها نو خپل د قيا مت دورځی ساعت تر نيما يی شپی پوري (100) ثانيو ته واړاوه چي تر دی د مه ورته تر ټولو نژدی وه.

د متحده ايالاتو ددفاع وزارت نوم په واقيعت کی يو غلط نوم ايښودنه دي هغه وزارت با يد دجنګ ، مرګ اودځا ن وژنی د وزارت په نوم سره ياده شي - ځکه چي دمتحده ايالاتو دما ليه ورکونکو په سلهاو مليادرونه دالر په کا ل کي دشرکتونو لکه « **لاک هيډ مارتين** » ، « **بوينګ** » ، « **صناعتی دفاعی او فضا يی سيستمو نو** = **BAE** »، او « **رويتيون** = Roytheon » تکنا لوژی کارپوريشن له خوا مصرف کيږي تر څو چي ويجاړونکي پټی وسلی را مينځته کړی يا جوړ کړي .

ددي لويو شرکتونو له خوا ګمارل شوی بريالی خلک چي ډير ی يی نارينه دي د وژنی غوره او ډيری پټي لاری رامينځته کولو لپاره خپل دماغی قدرت پکار اچوي.

اولسمشر «**دونا لډ ترامپ**» هغه وخت سم اوريښتينی دی کله چي هغه وايي : مونږ دروسی سره دوستی کولو ته اړتيا لرو ، ځکه چي دا روسی بمونه دي چي ښايی متحده ايالات له مينځه ويسي په حقيقت کي مونږ اړتيا لرو چي د ټولو هيوادونو سره خپل دوستي تقويه کړو ، او په جنګ ، وژنی اومرګ باندي مصرف شوی مليادرونه دالر بيا ورغوو اودسيمی يا جيوترمل په شمول دنوی کيدونکي انرژی سره په نړی کي دژوند فضا خوندی کړو اوپه مليادرونو شمير اونی کښت کړ شي

دا ډول اقدام به مليادرونه ډالر هم آزاد کړي کوم چې ورته اهدافو ته وګرځول شي د متحده ايالاتو ټولو اتباعو لپاره وړيا طبي پاملرنې چمتو کول ، د وړيا زده کړي سره ، د بې کوره خلکو لپاره کورونه ، او رواني ناروغی د ناروغانو ساتنه.

متحده ايالات اړتيا لري چې خپل بشپړ اخلاقي او معنوي لوړوالی ته ورسيږي او نړی د هوسايني او بقا لپاره رهبري کړي. زه پوهيږم چې دا ممکنه ده ځکه چې په « 1980» کلونو کې ، په ملی او نړيواله کچه په مليونونه عجيب خلک د وسلو د سيالی او سرې جګړې سره مخالفت وکړ.

## مګر په متحده ايالاتو کي اوسني فعاليت څه دي ؟

په **مونټانا** (Montana)،**شما لی ډکوتا** (North Dakota) او**وومينګ** (Wyoming) کي ، «450» **مينتمون دری** « Minutman iii » **توغند يو** لوی الوتکو فعا ليت کوي او په هر سيلو «Silo» مزايلو کی دوه توغندي ويشتونکي تا بعه شوی دي چي هم مزايل

*کنترولوی او هم مزایل ا لوزی یا پرتا ب کوی ، چي تقریباْ دوها یدروجنی بمونه هم دځانه سره حمل کوي اودغه الوتکي دهایدروجن بمونو په لرلو سره هروخت الوتلو ته دتیا ر سی یا د چمتوا لي او هم ددی هیواد تحت البحری وسلی په چوپ او چوپتیا کی له اقیا نوس څخه دپرتا ب یا د تغولو په حا لت کي چمتو دي .*

*دواړه زبر ځواک یعنی متحده ایالات او هم روسیه اتومی وسلي لري چي په نظامی تاسیساتو اود نفوس په مرکزونو کي په نښه یا تر سترګو کیږي ، هستوی جګړه هر وخت پیښیدای شی لکه هسی چي په دی اخرو وختو کي ستیفن ها وکنګ ( Stephen Hawhing) په کا ل (2014) خبرداری ورکړي، چي مصنوعي استخبارات چي اوس دپوځ لخوا پکاروړل کیږي دومره خپلواک کیدی شی چي پخپله اتومی جګړه پیل کړي .*

*دا ګواښ په لویه کچه د سیا ستمدارانو اود ا صلی رسنیو له خوا پری سترګي پټی کیږي یعنی هغو چي رواني نیمګړتیا ته دوام ورکوي ځکه چي مونږ د خپل مرګ په لوری زیار باسو اوپر واقیعتونو باندي سترګي پټوو ، څنګه فزیک پوهان ، انجینران او نظا می پرسونل چي نړۍ یی داتومی وسلو جوړولو لپا ره چمتوکړي دوی ، ترڅو هیڅکله پام خپلو معا دلاتو ته نه اړوی او هغه داچي دا احتمال نه ورکوی چي یوکوچنی نابالغ ماشوم وتوانیږي زمونږ د بربادی لپاره پخپل لاس د نړي د تخریب اود ورانید و ماشه را کش کړي .*

## دلیکونکی په اړه څو کرښی :

***کا لډی کوټ*** *د ماشومانو د ناروغی پیژندونکی یا متخصص او د تولنیز مسؤلیت لپاره د فزیک پوهانو د« 1978» تکرار بنسټ ایښودونکی دی ، کوم چې د اتومي جګړې د مخنیوي لپاره د نړیوال داکترانو د برخې په توګه د( 1985) د نوبل جایزه وګټله. -*

------------------------------ **په سلامونو «2020-08-12»**